**افغانستان اسلامي جمهوریت**
**لوړو زده‌کړو وزارت**
**لوګر د لوړو زده‌کړو مؤسسه**
**ښوونې او روزنې پوهنځی**
**دانګلیسي ژبې اوادبیاتو څانګه**

# دانګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې کټلاګ

## ۱۴۰۴-۱۴۰۰ه ل کال

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ښوونې اوروزنې پوهنځي د رئیس پیغام

الحمد لله الذي أمر بالعلم ورفع أهله درجات، فقال في كتابه الكريم:
﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾ [المجادلة: 11].
وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، قال صلى الله عليه وسلم:
«مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ» (رواه مسلم).
عباد الله، العلم نور، وبه تُبنى الأمم وتنهض المجتمعات، ومن أعظم ما يُعين على العلم فهمُ اللغات، لأنها مفاتيحُ المعارف، ووسيلةٌ للتواصل مع الشعوب، وقد قال عمر بن الخطاب رضي الله عنه:
«تعلّموا العربية فإنها من دينكم، وتعلّموا لسان الأعاجم فإنها تزيد في العقل» (أخرجه ابن أبي شيبة في المصنف).
فلنحرص – عباد الله – على طلب العلم، وعلى تعلم اللغات النافعة، فإنها تقرّب بين القلوب، وتفتح أبواب الحكمة، وتعين على فهم دين الله ونشره في العالمين.
د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه دښوونې اوروزنې پوهنځي یو له ډیرو مهمو څانګو څخه شمیرل کیږي،ځکه چې انګلیسي ژبه دمعاصرې نړۍ یوله باارزښته اوپرمختللو ژبوڅخه شمیرل کیږي اوهمدارنګه یاده ژبه دغني ادبیاتو ترڅنګ پوهنتون شموله اودننني ټکنالوژۍ مخکښه ژبه ده. نوداچې یاده څانګه په نننۍ نړۍ کې ډیر ارزښت لري نوپه دی اساس اړینه ده چې یاده څانګه دخپلواساسي موخودلاسته راړولو لپاره حد اقل کټلاګ ولري، تر څو یادو موخو ته د ځان رسولو لپاره یو منظم پلان ولري.
زه په خپل وار سره ژمنه کوم چې د خپل وس او توان مطابق به له نوموړې څانګې سره مرستې او همکارۍ ته دوام ورکوم او د پوهنځي له ټولو منسوبینو څخه مې هیله ده چې له نوموړې څانګې څخه هیڅ راز همکاري ونه سپموي.

په درنښت

**پوهنمل ابراهیم نوري**

**د ښوونې اوروزنې پوهنځي رئیس**

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې د آمر پیغام

الحمد لله الذي علَّم الإنسان ما لم يعلم، وشرَّفه بالبيان والفهم، فقال في كتابه الكريم:

ژباړه: ستاینه یوازې د الله جل جلاله لپاره ده، هغه چې انسان یې د پوهې خاوند کړ او د خبرو توان یې ورکړ. الله تعالی فرمایي:

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْعَالِمِينَ﴾ [الروم: 22].

ژباړه: او د ده له نښو څخه د آسمانونو او ځمکې پیدایښت دی او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف دی، بېشکه په دې کې د پوهانو لپاره نښې دي. (الروم: 22).

وقال رسول الله ﷺ: ﴿مَنْ تَعَلَّمَ لُغَةَ قَوْمٍ أَمِنَ شَرَّهُمْ﴾ (رواه البيهقي).

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ژباړه: څوک چې د یوې قوم ژبه زده کړي، د هغوی له شره به په امان کې وي. (بیهقي روایت کړی).

وقال عمر بن الخطاب رضي الله عنه: ﴿تعلَّموا العربية فإنها من دينكم، وتعلَّموا لسان الأعاجم فإنها تزيد في العقل (المصنف لابن أبي شيبة﴾ عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمایلي دي: ژباړه: عربي زده کړئ ځکه چې دا ستاسو د دین برخه ده، او د عجم ژبې زده کړئ ځکه چې دا عقل زیاتوي. (المصنف لابن أبي شيبة).

ستر ذات الله تبارک و تعالی انسان د علم خاوند وګرځاوه او بیا یې ورته تلقین د دې وکړ چې د خپل علم د نافع ګرځولو لپاره باید له خپل علم څخه نور مسلمانان مستفید کړي. ځکه نو الله جل جلاله فرمایي: ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ﴾ (آل عمران: 187) ژباړه: او کله چې الله د هغو خلکو څخه عهد واخیست چې هغوی ته کتاب ورکړل شوی و، چې تاسو به دا (علم) خلکو ته څرګندوئ او نه به یې پټوئ. د قرآن کریم له ډېرو آیتونو، همدارنګه له مختلفو حدیثونو د اسلامي علماؤ له اقوالو څخه جوتیږي چې په اسلام کې د هیڅ قسم علم د تر لاسه کولو مخه نده نیول شوې اګر که د غیر مسلمو قومونو ژبه زده کول هم وي.

انګلېسي ژبه نه یوازې د ساینس او ټکنالوژۍ ژبه ده بلکه په نني عصري نړۍ کې د دنیوي او آخروي بریا یوه ډېره اهمه وسیله هم ګرځېدلې ده. له متواترو صحیح روایاتو معلومیږي د اسلام خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه رانیولې بیا آن تر نني عصري علماؤو پورې د غیر مسلمو د ژبو زده کړې په هکله مثبت نظر درلود. د انګلېسي ژبې او ادبیاتو څانګه د خپل علمي کادري غړو پر مټ هوډ لري چې داسې زده کړیالانو ټولنې ته وړاندې کړي چې د انګلېسي ژبې په برخه کې د ټولنې د درد دوا شي او نه یوازې په خپل مسلک کې کار وکړي بلکه اسلامي او ملي روحیه یې دومره پیاوړې وي چې اسلامي آیډیالوژۍ او د هیواد پر ځان بسیاینې لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

د دې لپاره چې زده کړیالانو او نور لوستی قشر د لوګر پوهنتون، انګلېسي ژبې او ادبیاتو څانګې له اساسي موخو، تشکیل، علمي کادر غړو او ځینو نورو اړینو مواردو خبر شي، دغه کټلاګ ترتیب شو. په دې کې به تاسې د څانګې لرلید، رسالت، ستراتیژیکې موخې، ارزښتونه، د زده کړیالانو تعداد، او همدارنګه د انګلېسي ژبې او ادبیاتو نصاب په سمستروار ډول سره ولوستلای شی. په دې هیله چې له دې کټلاګ څخه د څانګې په هکله ډېره څه زده کړی. د یوه سرلوړي او سوکاله هیواد او اسلام په هیله!

**نوماند پوهنیار رفیع الله مهجور**
**د څانګې آمر**

# دمطالبو لړلیک

**سرلیک** **مخ**

د پیل خبرې ........................................................................... ۱
لومړۍ برخه، د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې مخینه ..................................... ۲
د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې تشکیلاتي جوړښت ....................................... ۴
د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې کمیټې............................................................ ۵
د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې نصاب ...................................................... ۹
د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې د استادانو بیوګرافي ...................................... ۱۶

## د پیل خبرې

اساسي موخوته درسیدو لپاره اړینه ده چې هره اداره او علمي مرکز یومنظم پلان ولري؛ ترڅوخپلې ټاکل شوې موخې په آسانی سره لاسته راوړي. نودانګلیسي ژبې او ادبیاتویاتو څانګه په پام کې لري چې خپلواساسي موخوته درسیدولپاره یو منظم ستراتیژیک پلان ولري؛ ترڅو وکولای شي خپلې ټاکل شوې موخې په یاده موده کې لاسته راوړي.

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې خپلو اساسي موخو ته درسیدو په پار پنځه کلن ستراتیژیک پلان جوړکړی، نوموړی پلان د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیک پلان مطابق ترتیب او تنظیم شوی، او له دې وروسته به د انګلیسي ژبې اوادبیاتو څانګه هڅه کوي ترڅو خپلې ټولې کړنې او فعالیتونه د همدې ستراتیژیک پلان پربنسټ تنظیم اوترتیب کړي.

د یاد پلان په تنظیم اوترتیب کې د استادانو، علمي شخصیتونو او محصلانو سره لازمې مشورې شوې او اړوندې لارښوونې ترې اخستل شوي دي.

هیله مند یو چې دا ستراتیژیک پلان به د دې علمي بنسټ په مختلفو برخو کې پراختیا او انکشاف لپاره یو ښه لارښود وي؛ ترڅو په دې اساس په دې بنسټ کې د پوهې کچه او تخصصي ظرفیت پورته لاړشي او د څانګې د غړو لپاره د ارتقاء زمینه برابره کړي.

## لومړی برخه

### د انګلیسي ژبې اوادبیاتویاتو څانګې مخینه

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورى د (۵) ګڼې ۱۳۹۸ /۰۸/۱۵ نېټې (۱۷) بند تصویب پر بنسټ د یو غیر فارغ ورکوونکي ډیپارټمنټ په حیث د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې داخل شو. دا چې د یو لړ ستونزو له امله یې

د استاذانو تقرر د ۱۵/ ۰۲/ ۱۴۰۰نېټې پورې وځنډېده نو له دې تاریخ څخه وروسته یې په فعالیتونو پیل وکړ. دغه څانګه اوسمهال څلور تنه نوماند پوهنیار کادري غړي لري چې نوماند پوهنیار رفیع الله مهجور یې د سرپرست آمریت دنده په غاړه لري. د دغې څانګې مسؤلیتونه، کړنې، فعالیتونه، تګلارې، موخې، لرلید او رسالت د اوږد مهاله، منځمهاله او لنډ مهاله ویش پر مټ د غوره پلان جوړونې له مخې په ستراتیژیک پلان کې ځای پر ځای شوي دي.

د لوړو زده کړو وزارت د ۱۳۹۶-۱۳۹۹ کلونو ستراتیژیک پلان چې ۱۳۹۴ کال په ترڅ کې وروسته د ضروری مراحلو له تیرولو څخه بشپړ شو، د هیواد ټولو پوهنتونو او د عالی تحصیلاتو موسساتو ته واستول شو. لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځې دانګلیسي ژبې اوادبیاتو څانګې هم اړینه وبلله چې د خپلو چارو د قوي تنظیم او د لا پرمختګ په موخه د یوه پنځه کلن ستراتیژیک پلان د جوړولو لپاره یوه کمیټه جوړه کړي. دا ځکه چې پرته له یوه رهنمودي سند او ستراتیژیک لارښود د پلان څخه هیڅ امکان نه لري چې چارې په سم ډول اومناسب وخت کې تر سره شي. د دغې کمېټې مسؤل دڅانګې سرپرست آمر نوماند پوهنیار رفیع الله مهجور او د څانګې پاتې ټول درې تنه کادرونه یې د غړو په حیث وټاکل شول.

د پلان جوړونې کمیټې لومړی یوه عمومي ارزونه وکړه او د راتلونکو پنځو کلنو لپاره یې د ژور دقت او د څانګې د هر اړخیز پرمختګ لپاره یې پر امکاناتو غور وکړ، وروسته یې د لومړیتوبونو په ښودنې سره د (SWOT) په میتود یو تحلیل تر سره کړ، د دغو چارو په دوام دغه پنځه کلن ستراتیژیک پلان ترتیب شو.

باید ووایو چې د ښوونې او روزنې پوهنځی د انګلیسي ژبې اوادبیاتو څانګې دغه ستراتیژیک پلان د ۱۴۰۰ – ۱۴۰۴ هـ ش کلونو لپاره چمتو شوی.

## - لرلید (Vision):

د انګلېسي ژبې او ادبیاتو څانګه به په ملي کچه داسې مسلکي او پیاوړي اشخاص وروزي چې پر مټ به یې د انګلېسي ژبې په برخه کې د ټولنې اړتیاوې پوره کړي.

## ۲- رسالت(*Mission*):

د انګلېسي ژبې او ادبیاتو څانګې ټولیزه موخه سواد ته، په خاص ډول د انګلېسي ژبې په برخه کې د لوستلو، لیکلو او خبرو کولو توانایی ته پرمختګ ورکول دي.

## ۳- ستراتيژيکې موخې: (Objectives):

انګلېسي ژبې او ادبياتو څانګه لاندې موخې تعيقبوي:

۱. د عصري ښوونيزو وسايلو په مرسته زده کړيالانو ته د انګلېسي ژبې او ادبياتو په برخه کې معياري زده کړې وړاندې کول.

۲. د څانګې د غړو او د زده کړيالانو لپاره د ظرفيت لوړونې پروګرامونه په لار اچول.

۳. د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د نورو پوهنځيو استادانو ته د انګلېسي ژبې په برخه کې د انګلېسي ژبې مختلف پروګرامونه برابرول تر څو د انګلېسي ژبې په مرسته په خپل مسلک کې د خپلې پوهې کچه لوړه کړي.

۴. زده کړيالان د انګلېسي ژبې په برخه کې څېړنې ته هڅول.

## ۴- ارزښتونه:

- ژمنتيا، شفافيت او عدالت
- د عصري او مؤثرو ميتودونو په مرسته د تدريس چارې پر مخ وړل
- د لوړو زده کړو قوانينو او لايحو ته درناوی او د هغو مراعتول
- د غړو تر منځ سالم رقابت، مرسته او همغږي
- د چارو سالم مديريت
- د وخت غوره مديريت

**د انګليسي ژبې اوادبياتو څانګې تشکيلاتي جوړښت**

نوماند پوهنیار رفیع الله مهجور - د څانګې آمر

پوهنیار محمد تمیم مزمل - علمي کادر غړی

نوماند پوهنیار نورجمال مبارکزی - علمي کادر غړی

نوماند پوهنیار حامد کرزی شینواری - علمي کادر غړی

نوماند پوهنیار محمد یعقوب رحمانی - علمي کادر غړی

### د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې د علمي کادرغړو احصائیه

| ګڼه | نوم | د پلار نوم | تحصیلي رشته | د تحصیلي مرجع | د تقرر نیټه | تحصیلي درجه | فعلي علمي رتبه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | رفیع الله "مهجور" | جمال الدین | انګلیسي ادبیات | ننګرهار پوهنتون | ۱۵\۰۲\۱۴۰۰ | لیسانس | نوماند پوهنیار |
| ۲ | محمدتمیم "مزمل" | محمد نعیم | انګلیسي ادبیات | کندهار پوهنتون | ۱۵\۰۲\۱۴۰۰ | ماستر | نوماند پوهنیار |
| ۳ | نورجمال "مبارکزی" | سید مبارک شاه | انګلیسي ادبیات | پکتیا پوهنتون | ۱۵\۰۲\۱۴۰۰ | لیسانس | نوماند پوهنیار |
| ۴ | حامد کرزی شینواری | حاجي زرمه ګل | انګلیسي دبیات | ننګرهار پوهنتون | | لیسانس | نوماند پوهنیار |
| ۵ | محمد یعقوب رحمانی | سید الرحمن | انګلیسی ادبیات | پکتیا پوهنتون | | لیسانس | نوماند پوهنیار |


۱- جدول: د انګلیسي ژبې او ادبیاتویاتو څانګې د علمي کادرونو د غړو لیسټ

### د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې کمېټې

د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکوني کمېټه
د نصاب کمېټه


د خیرني کمېټه
د فرهنګي چارو کمېټه
د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه
د برېښنايي زده کړو  کمېټه

**د کیفیت لوړاوی او اعتبارورکونې کمېټې تشکیلاتي جوړښت**





**۱-۳ شکل: د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې د تضمین کیفیت کمیټې تشکیلاتي چارت**

**د نصاب کمېټې تشکیلاتي جوړښت**




**۱-۴ شکل: د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې د نصاب کمېټي تشکیلاتي چارټ**

**د څېړني کمېټي تشکیلاتي جوړښت**





**... او ادبیاتو څانګې د څېړني کمېټي تشکیلاتي چارټ**

**د فرهنګي چارو کمېټي تشکیلاتي جوړښت**





**... او ادبیاتو څانګې دفرهنګي چارو کمیټې تشکیلاتي چارټ**

**دستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمېټي تشکیلاتي جوړښت**



**۱-۷ شکل: د انګلیسي ژبې اوادبیاتویاتو څانګې د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټې تشکیلاتي چارت**

**دبرېښنايي زده کړو کمیټې تشکیلاتي جوړښت**




-۸ ... و ځانګې بریښنایي زدکړو کمیټې تشکیلاتي جوړښت

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې نصاب

| Semester - 1) (First year / First Semester) | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Reading | Ed.En.0121 | Basic | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 2 | Writing | Ed.En.0122 | Basic | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | |
| 3 | Grammar | Ed.En.0123 | Basic | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 4 | Listening & Speaking | Ed.En.0124 | Basic | 4 | English | 3 | 1 | 4 | 80 | |
| 5 | General Psychology | Ps. Gp 0106 | University inclusive | 2 | Psychology | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 6 | Basics of Computer | Si. Is 0105 | Inclusive | 2 | Computer | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 7 | Dari | Li. Da 0116 | Basic | 2 | Dari | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 8 | World View of Islam | Ie.Ic.0101 | Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | |
| 9 | Elective | | Elective | 2 | | 2 | | 2 | 32 | |
| 10 | | | | | | | | | | |
| Total credits in this semester | | | | | | 20 | | | | |

| **Elective subject contents** | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| No | Type of Subject | Code | Credits | Department | Classes | | | Total credits in semester |
| | | | | | Theory | Practical | Total | |
| 1 | Arabic | | 2 | Islamic culture | 2 | | 2 | 32 |
| 2 | Physical Education | | 2 | Sport | 2 | | 2 | 32 |
| 3 | | | | | | | | |
| 4 | | | | | | | | |

| **No** | **Subject category** | **Credit** | **Percentage** |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | 13 | 8.78% |
| 2 | Professional | 0 | |
| 3 | University inclusive and elective | 7 | 4.72% |
| 4 | | | |

| **Semester - 2) (First year / second Semester)** |
|---|

| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Reading | Ed.En.0221 | Basic | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | Reading |
| 2 | Writing | Ed.En.0222 | Basic | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Writing |
| 3 | Grammar | Ed.En.0223 | Basic | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | Grammar |
| 4 | Listening & Speaking | Ed.En.0224 | Basic | 4 | English | 3 | 1 | 4 | 80 | Listening & Speaking |
| 5 | Study Skills | Ed.En.0231 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 6 | Educational Psychology | Ps. Gp 02 10 | Professional | 2 | Psychology | 2 | 0 | 2 | 32 | General Psychology |
| 7 | Pashto | Li. Pa 0215 | Basic | 2 | Pashto | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 8 | Worshiping and its Values | Ie.Ic.0201 | University Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | World View of Islam |
| 9 | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | |
| **Total credits in this semester** | | | | | | 18 | | | | |

| No | Subject category | Credit | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | 13 | 8.8% |
| 2 | Professional | 4 | 2.7% |
| 3 | University inclusive | 1 | 0.67% |
| 4 | | | |

**Semester - 3) (second year / third Semester)**

| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Reading | Ed.En.0321 | Basic | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Reading |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | Writing | Ed.En.0322 | Basic | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Writing |
| 3 | Grammar | Ed.En.0323 | Professional | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Grammar |
| 4 | Listening & Speaking | Ed.En.0324 | Basic | 3 | English | 2 | 1 | 3 | 64 | Listening & Speaking |
| 5 | Linguistics | Ed.En.0332 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 6 | Basics of Education | Pe.En 0302 | Professional | 2 | Education/ Psychology | 2 | 0 | 2 | 32 | Educational Psychology |
| 7 | Contemporary History of Afghanistan | Ss.Hi 0303 | Inclusive | 2 | History | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 8 | Ethical System of Islam | Ie.Ic.0301 | Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | Worshiping |
| 9 | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | |
| **Total credits in this semester** | | | | | | 19 | | | | |

| No | Subject category | Credit | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | 9 | 6% |
| 2 | Professional | 7 | 4.72% |
| 3 | University inclusive | 3 | 2% |
| 4 | | | |

**Semester - 4) (Second year / fourth Semester)**

| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Reading | Ed.En.0421 | Basic | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Reading |
| 2 | Writing | Ed.En.0422 | Basic | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Writing |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | Grammar | Ed.En.0423 | Professional | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Grammar |
| 4 | Listening & Speaking | Ed.En.0424 | Basic | 4 | English | 3 | 1 | 4 | 80 | Listening & Speaking |
| 5 | Phonetics | Ed.En.0425 | Professional | 2 | English | 1 | 1 | 2 | 48 | |
| 6 | Elements of literature | Ed.En.0427 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 7 | Social system of Islam | Ie.Ic.0401 | Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | Ethical System of Islam |
| 8 | | | | | | | | | | |
| 9 | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | |
| **Total credits in this semester** | | | | | | 18 | | | | |

| No | Subject category | Credit | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | 10 | 6.75% |
| 2 | Professional | 7 | 4.72% |
| 3 | University inclusive | 1 | 0.67% |
| 4 | | | |

| **Semester - 5) (Third year / Fifth Semester)** | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Critical Reading | Ed.En.0521 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | Reading |
| 2 | Writing | Ed.En.0522 | Professional | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Writing |
| 3 | British Literature | Ed.En.0527 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | Elements of literature |
| 4 | Listening & Speaking | Ed.En.0524 | Professional | 2 | English | 1 | 1 | 2 | 48 | Listening & Speaking |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | Phonology | Ed.En.0525 | Professional | 2 | English | 1 | 1 | 2 | 48 | Phonetics |
| 6 | Educational Assessment | Ed.En.0534 | Professional | 2 | Educational Psychology | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 7 | English Teaching Method | Ed.En.0526 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 8 | Environment | Ns.En.0505 | Inclusive | 2 | Environment/ Geography | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 9 | Political system of Islam | Ie.Ic.0501 | Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | Social system of Islam |
| 10 | | | | | | | | | | |
| **Total credits in this semester** | | | | | | 18 | | | | |

| No | Subject category | Credit | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | 0 | |
| 2 | Professional | 15 | 10.13% |
| 3 | University inclusive | 3 | 2% |
| 4 | | | |

**Semester - 6) (Third year / Sixth Semester)**

| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Critical Reading | Ed.En.0621 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | Critical Reading |
| 2 | Writing | Ed.En.0622 | Professional | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 32 | Writing |
| 3 | Listening & Speaking | Ed.En.0624 | Professional | 2 | English | 1 | 1 | 2 | 48 | Listening & Speaking |
| 4 | English Teaching Method | Ed.En.0626 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | English Teaching Method |
| 5 | Learning Theories | Ed.En.0635 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6 | American Literature | Ed.En.0627 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | British Literature |
| 7 | Morphology | Ed.En.0636 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 8 | Economic System of Islam | Ie.Ic.0601 | Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | Political system of Islam |
| 9 | Research | Ed.En.0628 | Monograph/Project | 2 | English | 2 | | 2 | 32 | |
| 10 | | | | | | | | | | |
| **Total credits in this semester** | | | | | | 18 | | | | |

| No | Subject category | Credit | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | 0 | |
| 2 | Professional | 15 | 10.13% |
| 3 | University inclusive | 1 | 0.67% |
| 4 | Monograph/Project | 2 | 1.35% |

**Semester - 7) (Fourth year / Seventh Semester)**

| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Listening & Speaking | Ed.En.0724 | Basic | 2 | English | 1 | 1 | 2 | 48 | Listening & Speaking |
| 2 | English Teaching Methods | Ed.En.0726 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | English Teaching Methods |
| 3 | Practicum | Ed.En.0737 | Professional | 3 | English | 1 | 2 | 3 | 80 | |
| 4 | Syntax | Ed.En.0729 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | Morphology |
| 5 | Research | Ed.En.0728 | Monograph/Project | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 48 | Research |
| 6 | Translation Skills | Ed.En.0730 | Professional | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | |
| 7 | Comparative Study of World Literature | Ed.En.0727 | Professional | 2 | English | 1 | 1 | 2 | 32 | American Literature |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | Quran and Contemporary Science | Ie.Ic.0701 | Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | Economic System of Islam |
| 9 | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | |
| **Total credits in this semester** | | | | | | 17 | | | | |

| No | Subject category | Credit | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | 2 | 1.35% |
| 2 | Professional | 12 | 8.10% |
| 3 | University inclusive | 1 | 0.67% |
| 4 | Monograph/Project | 2 | 1.35% |

| **Semester - 8) (Fourth year / Eighth Semester)** | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| No | Subjects | Codes | Subject Category | Credits | Department | Classes | | | Total hours | Pre-requisites |
| | | | | | | Theory | Practical | Total | | |
| 1 | Listening & Speaking | Ed.En.0824 | Professional | 2 | English | 1 | 1 | 2 | 48 | Listening & Speaking |
| 2 | English Teaching Methods | Ed.En.0826 | Professional | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | English Teaching Methods |
| 3 | Syntax | Ed.En.0829 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | Syntax |
| 4 | Translation Skills | Ed.En.0830 | Professional | 3 | English | 3 | 0 | 3 | 48 | Translation Skills |
| 5 | Literary Criticism | Ed.En.0827 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | World Literature |
| 6 | Islamic civilization | Ie.Ic.0801 | University Inclusive | 1 | Islamic culture | 1 | 0 | 1 | 16 | Quran and Contemporary Science |
| 7 | Monograph | Ed.En.0838 | Monograph | 5 | English | 5 | 0 | 5 | 80 | Research |
| 8 | Leadership in education | Ed.En.0839 | Professional | 2 | English | 2 | 0 | 2 | 32 | |
| 9 | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | |

| Total credits in this semester | 20 |
|---|---|

| No | Subject category | Credit | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic | | |
| 2 | Professional | 14 | 9.45% |
| 3 | University inclusive | 1 | 0.67% |
| 4 | Monograph | 5 | 3% |

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې د استادانو بیوګرافي

### د نوماند پوهنیاررفیع الله مهجوربیوګرافي

دلوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي د انګلیسي ژبې او ادبیاتو ډیپارتمنټ کادري غړی نوماند پوهنیار **رفیع الله مهجور** د جمال الدین زوی په ۱۳۷۳ کال کې د ننګرهار ولایت مرکز اړوند اتمه ناحیه کې په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی. له ابتدایي او ثانوي زده کړو وروسته یې په ۱۳۹۱ کال کې د محمدي صاحبزاده عالي لېسې څخه فارغ او د ۱۳۹۳ کال کانکور آزموینې له لارې د ننګرهار عالي دارالمعلمین انګلېسي څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۵ کې له یادې څانګې څخه فارغ شو. وروسته بیا د اختصاصي ازموینې له لارې په کال ۱۳۹۶ د ننګرهار پوهنتون ژبو او ادبیاتویاتو پوهنځي انګلېسي څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۸ کال له یاد پوهنتون څخه فارغ شو چې له فراغته درې میاشتې وروسته په  همدې کال کې د آزادې سیالۍ آزموینې له لارې د الفلاح (خصوصي) پوهنتون ته د استاد په حیث بریالی شو چې په یاد بنسټ کې وروسته له دوه کاله خدمت څخه په ۱۳۹۹ کال کې د آزاد رقابت آزموینې له لارې لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې ښوونې او روزنې پوهنځي په انګلېسي څانګه کې د علمي کادر په صفت وګمارل شو.

### د پوهنیارمحمد تمیم مزمل بیوګرافي

دلوګردلوړوزده کړوموسسې، دښوونې اوروزنې پوهنځي، دانګلیسي ژبې اوادبیاتوتودیپارتمنت کادري غړی نوماندپوهنیار محمدتمیم مزمل د محمدنعیم زوی په ۱۳۷۲ه ش کال کې د میدان وردګو ولایت، جلریزولسوالۍ، دذیولات کلي اړوند په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی. له ابتدائي او ثانوي زده کړو وروسته یې په ۱۳۹۱ه ش کال کې د ذیولات له  عالي لیسې څخه فارغ اوپه  ۱۳۹۳ه ش کال کې دکانکورد آزموینې له لارې د کندهار پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځي دانګلیسي ژبې اوادبیاتویاتو څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۷ه ش کال کې له یاد پوهنتون څخه په کادرکې فارغ شوی دی. له پوهنتون څخه ترفراغت وروسته یې دحضرت عاصم (رض) په عالي خصوصي لېسه، کلاسیک تعلیمي مرکز اوځلاند دانګلیسي اوکمپیوټرزده کړې په علمي مرکزکې دانګلسي مضمون داستادپه حیث دنده اجراکړې ده. په ۱۳۹۹ه ش  کال کې د آزاد رقابت آزموینې له لارې لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې ښوونې او روزنې پوهنځي په انګلیسي څانګه کې د علمي کادر په صفت وګمارل شو چې تر اوسه پورې په همدې علمي بنسټ کې خپله مقدسه دنده پرمخ وړي.

### د نوماند پوهنیارنورجمال مبارکزي بیوګرافي

دلوګردلوړوزده کړوموسسې، دښووني اوروزني پوهنځي، دانګلیسي ژبې اوادبیاتویاتودیپارتمنت کادري غړی نوماند پوهنیار نورجمال مبارکزی د سیدمبارک شاه زوی په ۱۳۷۰/۱۲/۱۶ه ش کال کې د پکتیا ولایت دسیدکرم ولسوالی دکوه سین خانوخیلوکلي اړوند په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی. ابتدائیه زده کړې یې د بنګښو په عالي لیسه کې اوثانوي زده کړې یې په څمکنیوعالي لیسه کې سرته رسولي دي، چې په ۱۳۸۹ه ش کال کې د څمکنیوله مرکزي عالي لیسې څخه فارغ شوی دی. چې د ۱۳۹۲ه ش کال د کانکور آزموینې له لارې دپکتیا پوهنتون دژبواوادبیاتویاتو پوهنځي، انګلیسي څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۵ کال کی له یاد پوهنتون څخه په کادرکې فارغ شو.

**دندې:**

استاد نورجمال مبارکزی په ۱۳۹۰ ه ش کال کې دآزادرقابت له لارې دپکتیا ولایت اړوند څمکنیوولسوالی دنسوان حصارک ابتدائیه ښوونخي ته داستاد په صفت بریالی شوچې له یوکال خدمت وروسته په ۱۳۹۱ ه ش کال کې دراغه کلي ابتدائیه ښوونځي ته تبدیل شو. نوموړی استاد په یادښوونځي کې له یو کال خدمت وروسته دحلیم قلعه عالي لیسې ته داستاد په حیث تبدیلي وکړه او په یاده لیسه کې له یوه کال خدمت وروسته د تیرې باغشاه عالي لیسې ته تبدیل شو چې تر۱۳۹۹ ه ش کال پورې یې په یاده لیسه کې داستاد په صفت دنده ترسره کړه. همدارنګه نوموړی استاد د۱۳۹۶ه ش څخه تر۱۳۹۸ه ش کال ترآخره پورې دپکتیاپوهنتون دژبواوادبیاتویاتوپوهنځي اوښووني اوروزني پوهنځي دانګلیسي ژبې اوادبیاتویاتوپه څانګوکې دقراردادي استادپه توګه دنده اجراکړې ده. استادنورجمال مبارکزي دپوهنې په برخه کې ترنهه کلن خدمت وروسته د۱۳۹۹ ه ش کال کې دآزادرقابت له لارې لوګردلوړوزده کړوموسسې، ښووني اوروزني پوهنځي په انګلیسي څانګه کې دعلمي کادرپه توګه وګمارل شوچې تراوسه په همدې علمي بنسټ کې خپله مقدسه دنده پرمخ وړي.

**د نوماند پوهنیارحامد کرزي شینواري بیوګرافي**

حامد کرزی شینواری د حاجي زرمه ګل شینواري زوی، په ۱۳۸۱ هـ.ش کال (۲۰۰۱ ع.) کې د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالی د عدل خېلو کلي په یوه درنه او دینداره کورنۍ کې زیږېدلی دی. له کوچنیوالي څخه، د دین، ادب، او علم په چاپېریال کې روزل شوی او د زده کړو سره یې ژوره علاقه درلوده .هغه خپلې لومړنۍ زده کړې د ۲۸مې ویالې عالي لیسې کې پیل کړې او تر نهم ټولګي پورې یې هلته دوام ورکړ. وروسته یې خپلې ثانوي زده کړې د مومندرې زراعت عالي لیسې کې ترسره کړې، چیرته چې یې د لسم، یوولسم، او دولسم ټولګي زده کړې په بریالیتوب سره بشپړې کړې او په ۱۳۹۹ هـ.ش کال (۲۰۲۰ ع.) کې فارغ شو.په همدغه کال کې، نوموړی د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې ته بریالی شو. د تحصیل پر مهال، هغه په علمي فعالیتونو کې فعاله ونډه واخیسته او د ادبیاتو، ژبپوهنې او ژباړې په برخو کې یې ژور شوق پیدا کړ. ښاغلي شینواري خپل لیسانس تحصیلات په ۱۴۰۳ هـ.ش کال (۲۰۲۴ ع.) کې په بریالیتوب او ممتاز ډول بشپړ کړل.له فراغت وروسته، ښاغلی شینواری په یوه آزاد رقابتي ازموینه کې د لوګر پوهنتون د انګلیسي ژبې څانګې ته د استاد په توګه کامیاب، او د پوهنتون د علمي کادر رسمي غړی شو.

**د نوماند پوهنیارمحمد یعقوب رحماني بیوګراف**

استاد محمد یعقوب رحماني د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ د څلوزیو سیمې په یوه علم پروره کورنۍ کې په ۱۳۷۹ هـ ش کال کې نړۍ ته سترګې خلاصې کړې. نوموړي خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده‌کړې د زړې کلا مکتب کې پیل کړې او په ۱۳۹۸ هـ ش کال کې یې له همدې مکتب څخه په عالي درجه فارغ شو. په ۱۳۹۹ هـ ش کال کې یې د کانکور ازموینه کې ګډون وکړ او د لوړو نومرو په اخیستو سره د پکتیا پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي انګلیسي څانګې ته بریالی شو. نوموړي د څلورو کلونو په موده کې د خپلې څانګې اول نمره پاتې شوی او د پوهنتون د زده‌کړو ترڅنګ یې د تدریس په برخه کې فعاله ونډه لرله. نوموړي د پکتیا ولایت په بېلابېلو تعلیمي بنسټونو لکه حمیدي شهباز خصوصي عالي لېسه، دعوت خصوصي عالي لېسه، چلنجر انګلیسي ژبې ښوونیز مرکز او جهان د انګلیسي ژبې ښونیز مرکز کې د انګلیسي ژبې ښوونکی پاتې شوی.

استاد رحماني په ۱۴۰۳ هـ ش کال کې پوهنتون څه د % ۹۳ په جوړولو سره په کادر کې فارغ شو او له فراغت وروسته یې د خپل بې ساري استعداد پر بنسټ د سختو ازموینو وروسته مسلم د انګلیسي ژبې انسټیټیوټ کې د استاد په توګه په دنده وګومارل شوو. دا چې نوموړي د پوهنتون د استادۍ سره له وړاندې بې‌سارې مینه لرله او دا یې یو لوی ارمان وو، د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د انګلیسي څانګې کادري بست ته یې د بست د اعلان سره سم نوملیکنه وکړه او ازاد رقابت له لارې د یوې شفافې ازموینې په پای کې په ۱۴۰۳ ه ش کال کې په لوړو نمرو یاد بست ته بریالی شو. اوس مهال لوګر پوهنتون کې د استادي مقدسه دنده په پوره اخلاص او امانت داری سره پر مخ وړي. استاد محمد یعقوب رحماني خپل ټول ژوند تعلیم او تدریس ته وقف کړی او خپله ټوله ذهني، بدني او معنوي انرژي یې د محصلینو خدمت ته ځانګړې کړې ده. نوموړی ژمن دی چې د هېواد د راتلونکي نسل د ښوونې او روزنې په برخه کې غوره ونډه ولري.